Helsedirektoratet

NOKLUS
sammen for god kvalitet

# د کووېډ-19 د ځان آزموينې د طرزالعمل په اړه سپارښتنې

## کړنلاره




دا اړینه ده چې تاسو طرزالعمل یا طی مراحل په سمه توګه تعقیب کړئ، ترڅو ډاډ ترلاسه شي چې ستاسو د آزموينې پایله صحیح ده. له پیل مخکې ټولې سپارښتنې ولولئ.

1. د آزموينې مواد چې تاسو ته درکول کېږي باید له استفادې مخکې د 15 دقیقو لپاره د خونې په تودخه کې وساتل شي.
همدارنګه تاسو به اړتیا ولرئ چې یوه کثافت داني او یو زمان سنج یا په تلفون کې وخت ثبتوونکې ولرئ تر څو 15 دقیقې زمان ثبت کړئ.

2. د ازموینې له پیلولو مخکې خپل لاسونه په سمه توګه ومینځئ.

3. مواد په پاک، وچ او صافه سطح لکه د میز یا کونټر په سر واچوئ.



د وچولو بسته
یا پاکټ



د آزمويني کېسټ

4. مهر او لاک بسته خلاصه کړئ او د آزموينې کېسټه او د هغو په داخل کې د وچولو پاکټ راواخلئ. د آزموينې د کېسټ په مخ دایروي او مربعي شکل مه لمس کوئ. ډاډ ترلاسه کړئ چې د آزموينې کېسټه زیانمنه شوې نه ده، او وروسته هغه په پاکه، وچه او صافه سطحه باندې کېږدئ.

د وچولو داخلي بسته یا پاکټ کې یو ډول مرۍ دي چې باید رنګ یې ژیړ وي. که چېرې د مریو رنګ شین وي، نو پدې صورت کې نه شو کولای آزموینه وکړو. تاسو باید وروسته بله نوې آزموینه وکړئ.


د مایع تیوب

5. هغه زر ورق ایسته کړئ چې د مایع د تیوب پاسنۍ برخه یې پوښلې ده او تیوب په درېدلي یا ولاړ حالت کې ونیسئ، د مثال په ډول، په یوه کوچنې ګلاس کې. ډاډ ترلاسه کړئ چې مایع آخر ته نه ده رسېدلې.

6. مهر شوې بسته د یوه عفونت ضد پاک سوب په واسطه خلاصه کړئ. د سوب په پای کې د نرمې جنډې څوکه مه لمس کوئ.

7. تاسو باید د پزې له دواړو سوریو نمونه واخلئ او له هغه سوري پیل وکړئ چې ډېر بند وي. د پزې په دواړو سوریو کې له یوه سواب څخه استفاده وکړئ.



د پزې ښی سوری
د پزې چپ سوری

8. پورته وګورئ او سوب په کراره سره تقریبا د 2 سانتي مترو په اندازه په پوزه کې د ننه کړئ. مخکې له دې چې سواب په آرامۍ سره را وباسئ، د 15 ثانیو لپاره یې 4 ځله د پزې په سوري کې راتاو کړئ. همدغه کار د پزې په بل سوري کې هم تکرار کړئ.

د دې لپاره چې د آزموينې یوه دقیقه پایله ولرو، اړینه ده چې پورتنۍ سپارښتنې په پام کې ونیول شي.

9. سواب مستقیما د مایع په تیوب کې د ننه کړئ، د هغه سوب په څوکه چې ستاسو د پزې په سوري کې دی په مایع کې داخل کړئ. په هغه صورت کې چې لږ تر لږه 10 ځله سواب په پزه کې تاووئ، د تیوب لاندینی برخه تخته کړئ. کله چې سواب په پزه کې تاووئ او راکاږئ یې، نو په تیوب باندې په فشار کولو سره د سواب له څوکې مایعات ونیښتېزئ. وروسته بیا سواب کثافت دانی ته واچوئ.



10. سرپوښ په ټینګه سره د تیوب په داخل کې فشار کړئ.



11. تیوب پورته خوا ته تاو کړئ او له تیوب څخه د آزموینې د کیسټې په دایروي ځایګاه باندې په کراره 4 څاڅکي مایع و څڅوئ.




12. د آزموینې کېسټ د 15 دقیقو لپاره په غیر مختل ډول پرېږدئ. مخکې له دې چې د آزموینې پایله ولولئ 15 دقیقې انتظار وکړئ.

13. د پایلې له لوستو وروسته ټول مواد د کثافت په کڅوړه کې واچوئ. کڅوړې ته غوټه واچوئ او د نورو معمولي کثافاتو په شان یې لرې وارتیرئ.

14. خپل لاسونه ومینځې او هغه سطحه پاکه کړئ چې د آزموینه په موخه استفاده شوې ده.

# د آزمويني پايله ولولئ

پایله د آزموینې په کېسټه باندې د شته مربعي خالیگاه په منځ کې د یوې رنګه کرښې په حیث را څرګندیږي. ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو د پایلو لوستلو لپاره کافي رڼا ولرئ.



**مثبته آزموینه**
که چېرې د آزموینې په پایله کې کووېډ-19 تشخیصیږي، نو تاسو به دوه رنګه کرښې وګورئ. یوه کرښه د کنترولي خالیگاه په (C) نقطه کې او بله کرښه د آزموینې په خالیگاه په (T) نقطه کې. ټول رنګه سیوري چې د آزموینې په خالیگاه کې لیدل کېږي باید د مثبتې آزموینې په حیث په پام کې ونیول شي.

که چېرې آزموینه مثبته وي، تاسو ښایي کووېډ-19 ولرئ. تاسو باید ځان له نورو جلا کړئ او د آزموینې په مرکز کې د بلې آزموینې لپاره وخت ونیسئ ترڅو د دغې آزموینې تصدیق وکړي. کله چې د بلې آزموینې لپاره وخت ونیسئ، نو هغه مرکز ته خبر ورکړئ چې ستاسو د چټکې آزموینې پایله مثبته راغلې ده.



**منفي آزموینه**
که چېرې د کنترول په خالیگاه (C) کې یوازې یوه رنګه کرښه څرګندیږي، نو پدې مانا ده چې آزموینه منفي ده، او کووېډ-19 نشته، دا پدې مانا ده چې تاسو ملوث نه یاست، خو باید بیا هم د کووېډ-19 قوانین په پام کې ونیسئ.



**بې اعتباره آزموینه**
که چېرې د کنترول په خالیگاه (C) کې هېڅ رنګه کرښه نه څرګندیږي، نو پدې مانا ده چې په آزموینه کې تېروتنه شوې. نو پدې صورت کې تاسو باید د یوې نوې کیسټې په واسطه بله آزموینه ترسره کړئ.